بانک جهانی
تلاش برای رسیدن به یک
جهان فاقد فقر و غربت

**جمهوری اسلامی افغانستان**

**وزارت اقتصاد**

---

# خبرپاڼه

## د افغانستان اسلامي جمهوريت د بيوزلۍ او غذايي ډاډمنتوب (مصؤنيت) په اړه تازه ارقام او معلومات خپروي

"ناسالمه تغذيه او د غذائي ډاډمنتوب نشتوالی د افغانستان د وګړو يوه لويه برخه زيانمنوي (په ځانګړې توګه د پسرلي په مياشتو کې او هغه وخت چې د غذائي توکو نرخونه لوړيږي)"

د ۲۰۱۲ ز کال د مارچ ۴مه: د افغانستان د اسلامي جمهوريت د اقتصاد وزارت او نړيوال بانک نن ورځ **"په افغانستان کې بيوزلي او غذائي ډاډمنتوب: په ۲۰۰۷/۰۸ ز کلونو کې په ملی کچه خطرونو او زيان منلو د ارزونو د تحليل پر بنسټ"** تر عنوان لاندې يو ګډ رپوټ خپروي.

دغې څيړنې په افغانستان کې د بيوزلۍ او غذائي ډاډمنتوب تر منځ پر اړيکې ټينګار کړی او د ولايتونو په کچه د توپيرونو په پام کې نيولو سره او د غذائي ډاډمنتوب د مهمو سنجونو په اړه د خوراکي توکو د مخ په زياتيدونکو بيو پر درک او فهم ټينګار درلودلو سره د افغانستان د غذائي ډاډمنتوب د نشتوالي وضعيت په اړه څيړنې او پلټنې ترسره کوي.

دغه رپوټ جوتوي چې افغانستان د جدي ناسالمې تغذيې او غذائي ډاډمنتوب نشتوالي له ستونزې سره مخ دی. د افغانستان په کوچنيانو کې اوږدمهاله ناوړه/نيمګړې تغذيه په ټوله نړۍ کې يوه له تر ټولو لوړو کچو څخه ګڼل کيږي. په افغانستان کې تر ۵ کلنو څخه کم عمره کوچنيانو له نيمايي څخه زياته برخه (۵۴٪) له سالمې ودې بې برخې دي (چې د ناوړه تغذيې له ستونزې سره لاس او ګريوان دي) او له درييمې برخې زيات (۳۴٪) د وزن کموالي سره مخ دي. شاوخوا ۷۲ سلنه کوچنيان (تر ۵ کلنۍ کم) د کوچنيو تغذيوي توکو (يعنی اوسپنه او آيوډين) له کموالي څخه رنځيږي.

د يادې ناسالمې تغذيې پايلې په هيواد کې له بيوزلۍ او غذائي ډاډمنتوب سره خورا نږدې اړيکې لري. د افغانستان تر څلورمې برخې زيات وګړي (۲۹ سلنه) د خپل اړتيا کالوری نه شي ترلاسه کولای، په دې مانا چې په يوه ورځ کې تر ۲۱۰۰ کالوريو کمه اندازه کاروي. د افغانستان ٪۲۰ برخه وګړي له داسې يوه غذائي رژيم څخه، چې په کافي اندازه د غذائي رژيم تنوع درلودونکي نه دی، برخمن دي چې دغه کار د دوي د کوچنيو مُغذّي توکو (micro nutrients) د رانيولو وړتيا زيانمنوی. برسيره پر دې، په کم حاصله موسمونو کې (لکه د پسرلي په موسم کې) د غذائي ډاډمنتوب د نشتوالي ستونزه دوه برابره کيږي چې دغه مهال ٪۳۳ وګړي د کالوريو د کموالي او ٪۲۴ د ناسالمه غذائي رژيم له امله کړيږي.

د افغانستان د اسلامي جمهوريت د اقتصاد وزير جلالتمآب عبدالهادي ارغنديوال په خپلو خبرو کې وويل چې *"ډيره د خواشينۍ خبره ده چې د افغانستان کوچنيان زموږ د وګړو تر بل هر چا زيات زيان ليدونکې برخه جوړوي او دا چې د دوی ژوند چې ژغورلی يې شو هم له ګواښ سره مخ دی"*. نوموړي همدا راز زياته کړه، *"له دې امله چې د مړينې لوړه کچه، په ځانګړې توګه تر ۵ کلنو کم عمره کوچنيانو کې، په راتيټولو کې بريالي شو د وګړو د ډاډمنتوب په اړه د روانو کړنو او پروګرامونو زياتولو ته ښکاره اړتيا ليدل کيږي. د افغانستان دولت د نړيوالې ټولنې په مالي او تخنيکي مرسته په دې اړه خپلو کړنو ته دوام ورکولو ته ژمن دی"*.

په ټوليزه توګه، دا رپوټ په افغانستان کې د بيلابيلو جغرافيوی او اقتصادي ډلو ترمنځ د غذائي ډاډمنتوب په اړه لاسته راغلو معلوماتو کې ډيری بدلونونه جوتوي. د غذائي ډاډمنتوب نشتوالي ستونزه ښايي په کليواليو سيمو کې، چې د هيواد شاوخوا ٪۸۰ وګړي ژوند کوي، ډيره زياته روښانه تر سترګو شي. د بيلګې په توګه، د کالوريو کمښت د کليوالي وګړو ٪۳۰ برخه زيانمنوي په داسې حال کې، چې دغه شميره په ښاري سيمو کې ٪۲۴,۴ ده.

د دې رپوټ موندنې د پالیسي جوړوونکیو لپاره یو شمیر وړاندیزونه او مفاهیم وړاندې کوي:

1. دا چې ناسالمه تغذیه او د غذائي ډاډمنتوب نشتوالی د کال په اوږدو کې (خو زیاتره د پسرلي د موسم په میاشتو کې او هغه وخت چې د خوراکي توکو بیې لوړیږي) د افغانستان د وګړو یوه لویه برخه زیانمنوی، لدی کبله په افغانستان کې د ډاډمنتوب د پروګرامونو زیاتولو ته څرګنده اړتیا لیدل کیږي.

2. په بیلابیلو سیمو کې د خوراکي توکو د ډاډمنتوب په پایلو کې لویو او د پام وړ توپیرونو ته په کتنې سره (لکه د ولایتونو په کچه)، غوره او ژورو پلټنو ته باید ځانګړی لومړیتوب ورکړل شي تر څو د خوراکي توکو ډاډمنتوب پروګرامونو اغیزې لاپسې زیاتې شي.

3. آزمایښتي پایلې په ډاګه کوي که چیرې پالیسي جوړوونکي د بیو د لوړیدا پر مهال یوازې د کالوریو د ترلاسه کولو او مصرفولو پر ناوړه اغیزو خپله پاملرنه وڅرخوي، نو په دغه صورت کې د مهمې موضوع یوه لویه برخه له پامه غورځوي. په داسې حال کې چې د بیوزله او کمځواکه کورنیو د کالوریو د مصرفولو اندازه تر ډیره بریده کمه وي، دغه کورنۍ په بیو کې زیاتوالی د خوراکي توکو د څرنګوالي د راټیټولو له لیارې پوره کوي چې له غوښې څخه ګټه اخیستنه کې کموالی راوستل یې یوه بیلګه کیدای شي.

په افغانستان کې د نړیوال بانک سرپرست لوی رئیس جوزیفین بسنټ په خپلې وینا کې وویل چې، *"د روانې شخړې پر بنسټ، د تناسب په پام کې نیولو پرته، د کندهار او هلمند ولایتونو په څیر هغه ولایتونو سره چیرته چې یوځې ځواکونو او زیات جنګ شتون درلودلی، زیاتې بهرنۍ مرستې ترسره شوي دي"*. نوموړي همدا راز وویل چې، *"د دغې رپوټ تحلیل او تجزیه په ډاګه کوي چې د بیوزلی او غذائي ډاډمنتوب نشتوالي کچه په حقیقت کې په هغو ولایتونو کې لوړه ده چې امنیت پکې ټینګ دی. دا رپوټ وړاندیز کوي چې مرستې، ترهغې چې تر ټولو بیوزله وګړو ته ورسیږي، باید لاپسې په غوره توګه موخه بیزې شي. د دې لپاره چې د بیوزلی او غذائي ډاډمنتوب نشتوالي پر کچې ستره اغیزه پریباسي، د افغانستان په ټولو ولایتونو کې د خدمتونو په اغیزمنتوب کې زیاتوالی او په مساوي توګه یې وړاندې کول او د ټولنیز ډاډمنتوب رامنځته کول خورا ارزښتناکه او اړین ګام دی"*.

دا رپوټ د بیوزلۍ د سنجونې او ارزونې په اړه د نړیوال بانک د منظمو پروګرامونو د رپوټونو د لړۍ څلورم رپوټ دی چې د افغانستان دولت د اقتصاد وزارت د ملي پراختیا د پالیسی او د ستراتیژۍ د څارنې او ارزونې لوی ریاست او نړیوال بانک د ګډو هڅو په ترڅ کې جوړ شوی دی.

د دې رپوټ ازمایښتي تحلیلي موخو ته د عملی بڼه ورکولو لپاره، د کورنیو د غذائي ډاډمنتوب درې ډوله سنجونې په کار اچول شوي دي چې عبارت دي له: د هر کس پر سر روزانه د کالورۍ ترلاسه کول، د پروټینونو ترلاسه کول او د کورنیو د غذائي رژیم تنوع. دغه رپوټ د www.moec.gov.af په ویبپاڼه کې هم موندل کیدای شي.

د لازیاتو معلوماتو لپاره لاندې ورکړل شویو ادرسونو سره اړیکه ټینګه کړئ:

د ملي پراختیا د پالیسی او د ستراتیژۍ د څارنې او ارزونې لوی ریاست
د اقتصاد وزارت
د اړیکي شمیره: ۰۲۰۲۱۰۵۹۱۴

عبدالروف ضیا
نړیوال بانک
د اړیکي شمیره: ۰۷۰۰۲۸۰۸۰۰